# د پښتو د نثر ليکلو لارې

په دې مقاله کښې مې د څېړنې لپاره د نثر ليکلو بحث غوره کړی، ځکه چې په پښتو کښې خو څه نه څه د نظم او شعر زړه پانګه يا سرمشق موږ لرو اما د نثر سرمايه مو خورا لږ ده بلکې نسته.

پخوانو خلکو خو نثر نه دی ليکلی، او هغه چا چې کښلی دی هغه خو نيم نثر ګڼل کېږي او د شعر د وزن او قافيې لحاظونه ئې پکښې کړي دي.

اخوند درويزه په مخزن کښې او اخوند قاسم په قوائد الشريعه کښې تقريباً څلور سوه کاله دمخه نثر ليکل وغوښته، دا نثرونه که څه هم پر خپل ځای زموږ ادبي پانګه ګڼله کېږي او د پښتو د ادب په تاريخ کښې ښه مقام لري، مګر اوس زموږ لپاره سرمشق نه شي کېدای، ځکه چې هغو ته پوره نثر نه سو ويلای، د افضل خان خټک تاريخ مرصع يو دوه بابه چې انګرېزانو طبع کړي دي دا ځنې ښکاره کېږي چې د خټکو نثر خوږ او ساده او د نثر په ډول وُ، دغه خبره د عبدالقادر خان د ګلستان له ترجمې څخه هم ثابتيږي. (۱)

په هر صورت موږ اوس مجبور يو چې خپلې ژبې ته د نثر ليکلو سبک په خپله وټاکو، د سبک ټاکلو څخه مطلب دا نه دی چې په ژبه کښې له ځانه بې ځايه تصرفات وکو. يه ، يه ! مطلب دا دی چې په خپل نثر کښې دا خبره اساس وګرزوو، چې :

"ويل او ليکل مو سره سم وي"

يعنی هر څه چي په خوله وايو هغه وليکو.

ملټون وايي : چي نثر هم څوني ساده او دلكش وي هغوني مفيد دئ !

كالرج ليكي : پرموقع او مناسب الفاظ چي وضع نه لري نثر ئې بولي. موسيوروژوان وايي : د انسان په ژبه يا قلم كه كوم خيالات ښكاره سي او بې وزنه وي، نو ئې نثر بولو.

د نثر په ښګڼه كښي د الفاظو صافوالي او نه پېچلي كلمات ضروري دي، چي ويونكي يا اروېدونكي بې زحمته په وپوهېږي. په نثر كښي پربوتلي الفاظ او سپېڅلي جملې ليكل او خپل مطلب په داسي ژبه اداء كول چي هيڅ اشكال او وراني ونه لري ډېر ضرور دي، د نثر ليكونكي كمال دا دئ : چي خپل مطلب ساده اما دلچسپ اداء كړي او د ويونكي په زړه كښي ځاى وركي، او په ماغزو ئې ورننباسي په نثر كښي هر راز ګران او پېچلي مضامين او درانه مطالب راځي، او د دغو خبرو اسانه كول او ښه فهمول فقط د ليكونكي او نثار كار دئ، يو ماهر او پياوړى ليكونكي د ساينس يوه ګرانه خبره د فلسفې يو مشكل بحث، د اجتماعياتو يو ګنجلكه موضوع په داسي ډول كښلاى سي، چي ويونكي ته هيڅ ډول تكليف پېښ نه سي، او په لومړى پلا ويلو په وپوهېږي.

مثلاً : په پاړسو ژبه كښي د غزنوي عصر موّرخ بيهقي چي د خپلي زمانې تاريخ ليكلئ دئ، په خورا ساده او خوږ سپېڅلي نثر دئ كه موږ دغه نثر د وصاف يا د ميرزا مهدي يا د بيدل له نثر سره مقابله كو مځكه او آسمان فرق سره لري په هغه اندازه چي د بيهقي سبک سليس او روان او لكه اوبه داسي پاک او بې خبري دي په هغه اندازه د نور ليک له سنګري دروند او د اغراق او اشكاله ډک دئ حال دا چي موضوع د دواړو يوه ده او مطلب ئې د تاريخي حوادثو ښكارونه او څرګندول دي نوري به پربږدو، و پښتو ته به



راسو ځكه چي زموږ د څېړني مطلب هم دغه دئ چي د خپلي ژبي پر نثر ليكلو باندي ورغږېږو د پښتو نثر آثار چي موږ ته راغلي دي خورا لږ دي زه چي څه معلومات لرم لاندي به ئې نمونې در وړاندي كم :

**د پښتو نثر سوابق :**

تر اوسه د پښتو نثر خورا پخوانى اثر چي موږ ته رارسېدلئ دئ د سليمان ماكو ارغستاني د تذكرۃ الاولياء شپږ پاڼي دي او د ده له نثره ښكاري چي پخوا د پښتو ليک ساده او روان او محاورې ته نژدې وُ، ده كتاب په (٦١٢ هـ) كښلئ دئ چي نمونه ئې دا ده :

"نقل كاندي : چي بېټنى سپين وړېږى سو نو ده به هر كله څښتن باله او رب ته به لې درخواست كاوه چي زما په كاله او د سړبن او غرغښتي په كول كښي بركت كښېږده بادار قبول كړ د ده درخواست او ډكه سوه مزكه د پښتونخوا د دوى په كول." (۲)

تر سليمان ماكو وروسته نږدې بل د نثر كتاب تر اوسه نه دئ معلوم خو درې سوه كاله وروسته ګورو چي بايزيد روښان (٩٣٢ _ ٩٨٨ هـ) خپل خير البيان په څلورو ژبو پښتو _ فارسي _ عربي _ پنجابي كښلئ دئ.

مګر پير روښان خو د نثر په كښلو كښي هغه لار نه ده نيولې كومه چي سليمان ماكو درې سوه كاله دمخه نيولې وه.

د پير روښان نثر هم پوره نثر نه دئ لكه نيم منظوم بې خونده ليک دئ چي د جملو په پاى كښي يوه سجع خايوي او د ده نثر له پښتو محاورې څخه ليري كوي لكه :

"ذكر مي د تن د اندام د ژبي د زړه دسه كړي دئ عيان.
د تن ذكر هغه دئ چي تن وجارباسي له واړه حرام.
د اندام ذكر هغه چي كتاب تسبيح يي لولي وايي ښه كلام.
و قولو اللناس حسناء بيان دئ په قران.

د زړه ذکر هغه دئ چې کښيباسي ځما فکر او ځني وباسي اندېښنه د شيطان، دسه ذکر هوی دئ چي ننباسي او وباسي ځما په باد هره سه هر حال په هر ځای چي وي ذاکران ادميان." (۳)

د پير روښان رقيب او مخالف سړی خو اخوند درويزه ننګرهاری دئ چي د خير البيان په پيروي لي کټ مټ هغسي نثر کښلئ دئ لکه پير روښان چي کښلئ.

درويزه خپل کتاب "مخزن الاسلام" بللئ دئ چي ډيري خطي نسخې ئې سته او يوه زړه نسخه ئې زما ځخه ده، چي په (۱۱٦۷ هـ) فاضل محمد کاسي په ملتان کښي ليکلې وه، لکه دمخه چي مو وويل درويزه خپل نثر د نظم په ډول ککړوي مثلاً :

"بيا که څوک د وپوښتينه چي سنت د اسلام څو دي ته ووايه چي اوه دي ته آګاه شه بل خلاص شه له پساته." (مخزن)

اخوند قاسم پاپنخېل هم خپل فوايد الشريعه کښي د درويزه په ډول خپل نثر د نظم په دود کاږي مثلاً :

" په کيمياى سعادت کي دي راوړي هسي زده کړئ مؤمنانو چي اميد پرې هغه کاښي چي تابع د شريعت وي مستقيم د پاک نبي په ښه سنت وي." (ګلشن روه ص ۱۹)

درويزه خو د مغولي اکبر معاصر دئ او د (۱۰۴۸ هـ) په حدودو کښي وفات سوئ اما د راورټي په قول اخوند قاسم فوايد الشريعه په (۱۵٦۰ ع = ۹٦۷ ه) کال کښلئ دئ (وګورئ د راورټي د پښتو ګرامر دېباچه) چي په دې حساب نو دوي دواړه د پښتو پخواني او لومړني نثر ليکوني دي، تر دوی دمخه يا وروسته بابوجان هم د دوی په ډول خپل کتاب کښلئ دئ، چي د راورټي په توجه ئې اوس موږ ته څو بابه پاته دي د ده د نثر نمونه دا ده :

" څو د دې دنيا شاهان وو هغه څه شو
ابر باد د دوی تختونه په هوا وړه هغه څه شو"



(ګلشن روه)

له دغو درو نمونو ځخه ښکاري ده چي د پښتو زوړ نثر يو داسي نثر ؤ، چي د قافيو، رعايت پکښي کېدئ او کله کله د بحر او عروض ځخه هم تش نه ؤ. داخو د نثر زوړ او لومړنی سبک ؤ، مګر لکه د ختکو اديبانو چي زموږ ژبي ته نظماً ډېر خدمتونه کړي دي دغسي هم موږ او زموږ ژبه نثراً د دوی ممنونه ده.

ځکه چي خوشحال خان او د ده علمي کورنۍ د پښتو نثر هم د روښان او اخوند درويزه له سبکه راواړاوه او اصلاحات ئې پکښي وکړه. پخپله د خوشحال خان ډېر نثر ما نه دئ ليدلئ، مستشرقين د ده کتابونه تر (۱۰۰) جلده پوري ګڼي، راورټي وايي چي (۲۵۰) کتابونه ده ليکلي دي (۴) او پاړسو انوار سهيلي (کليله او دمنه) ئې په پښتو د "عيار دانش" په نامه ترجمه کړي وه. (۵) رياض الحقيقت او فرخنامه او پښتو هدايه او نور منثور آثار هم ده کښلي دي. (٦)

افضل خان ختک په تاريخ مرصع کښي وايي : خوشحال خان ځيني تاريخي ياداشتونه هم ليکلي وه اما د دې نامي سردار له منثورو کتابونو ځخه فقط دوني ويلای سم چي ده لکه نظم د نثر خواته هم توجه درلوده او د پښتو نثر ته هم ده لکه نظم ډېر ښه تحول ورکړئ دئ نو ځکه موږ دی د "پښتو پلار" ګڼو که تاسي تر ده دمخه د پښتو منثور کتابونه او د هغو سبک وګورئ او بيا هغه د ده د نثر سره مقابله کئ، نو به در ښکاره سي چي خوشحال خان په حقيقت کښي هم د پښتو د نظم او نثر پلار دئ. خو افسوس دلته دئ چي د ده منثور آثار ورک او د نظم په ډول رواج او عام نه دي دلته موږ د ده د نثر يو څو جملې نمونه وړاندي کوو : "يو بزرګ ويلي دي نن ورځ چي کولئ شئ نه پوهېږئ او چي پوهېږئ نشئ کولی، هر کله چي کولی مي شو نه پوهېدم، او چي وپوهېدم کولی مي نه شو." (د راورټي ګرامر ص ۲۱٦ _ له عيار دانش ځخه)

"يوه ورځ د باغ ښختن ناست وُ په تماشا د ګلونو بلبله ئې وليده چي مخ به ئې په پاڼيو د ګل مښن او په فرياد فرياد به ئې نارې وهلې ورق زرنګار د ګل به ئې په تېره مشوکه يو تر بله جدا کاوه."
(ګرامر ص ٣٦٠ _ له عياردانش)

دا خو د خوشحال خان د نثر لنډه نمونه وه تر ده وروسته د ده زوی عبدالقادر خان خټک ګلدسته ده چي د سعدي ګلستان ئې پښتو کړئ دئ، د ده ژبه که څه هم د ترجمې تر اغيزې لاندې ده مګر بيا خوږه ده يعني د اخوند درويزه د مکتب شاګرد نه دئ. بلکي د خپل پلار مقلد دئ، او نثر ئې ښېړ نثر ګڼل کېدلای سي. دلته ئې يوه نمونه ولولئ : "يو پادشاه د خراسان د ملک په خوب کښي سلطان محمود د سبکتګين زوی وليد، سل کاله د ده له مرګه، چي درست وجود ئې ژرېدلی خاوري سوئ، مګر سترګي ئې چي په کولکونو کښي غړېدلې." (ګلشن روه)

د خوشحال خان په کورنۍ کښي بل مشهور نثار د ده لمسی افضل خان د اشرف خان زوی دئ، د ده نثر قلم هم خورا تيره، کليله او دمنه ئې د "علم خانه دانش" په نوم او د اعثم کوفي (٧) تاريخ ئې هم پښتو کړي دي. (٨)

د ده د نثر نمونې دا دي :

"ما اروېدلي دي چي يو بزرګ ويلي دي هر څه څما نصيب وه هر څه چي له هغه تښتېده لکه سيوره راپسې وه." (کيله و دمنه)

د افضل خان تاريخ مرصع د پښتو د زاړه نثر غوره نمونه ګڼله سي يو څو ليکي ئې دا دي :

"نقل دئ چي اخوند درويزه په خپل کتاب کښي چي تذکرة الابرار باله سي ليکلي دي چي شيربون نومېده د کندهار په لوري پښتون وُ."

(تاريخ مرصع)



داخو د خوشحال خان د مکتب د نثر يو څو نمونې وې ښکارېږي چي تر دې وروسته د پښتو د نثر ليکلو مروج سبک هم دغه وُ، يعني د خټکو سبک مقبول او خپور سوئ او هري خواته ئې پښتنو تقليد کړئ دئ. د خټکو د مکتب سره د پښتو هغه نثر چي نه پوره نثر ګڼل کېدئ او نه پوره نظم يعني د اخوند درويزه د مکتب سبک ورک سو او دوی د پښتو نثر او نظم سره بېل کړه، هر يوه ته ئې خپل حد او خند مقرر کئ، دا وېش وروسته مقبول سو، او ټولو پښتنو ومانه ځکه چي طبيعت ته هم نژدې وُ، او رحمان بابا او حميد او نورو يوازې د نظم خوا ونيوله، تر دوی وروسته د ځنو نثر ليکونکو د ليک نمونې دغه دي :

د آدم خان او درخانۍ کيسه که څه هم زړه ده او دا دوه مينان د مغولي اکبر په عصر کښي (٩٦٣ _ ١٠١۴ هـ) تېر سوي دي مګر داسي ښکارېږئ چي د قصې ترتيب او ټولول او تهذيب د کتاب په ډول وروسته سوئ دئ.

ځکه چي د قصې اصلي نارې خو چي موږ ګورو د اخوند درويزه د مکتب په سبک اړه لري اما نور نثر ئې د خوشحال خان د مکتب نثر ته ورته دئ مثلاً د آدم پر درخو ناره :

درخانۍ ! زه په اصل کته باز يم، چي پر تا زرکي شيدا سوم ! اوس ته راته په کټ کټ خاندې درخانۍ ! زه زبون ستا د خندا سوم... !"

دا خو هغه د اخوند درويزه په ډول نيم منظوم نثر دئ اوس نو د دې قيصې يو څه نثر وګورئ : "دوهم دا چي توجه باطني پرې وکړم چي خاطر ئې په اضطراب ګډوډ سي، او روح به ئې شغل په بل احوال کا، او مخ به څرګند لکه مشل سي."(د آدم خان اودرخانۍ قصه قلمي) نو دا ښکاره سوه چي د کتاب په ډول تر خوشحال خان وروسته ليکلې سوېده، ځکه چي نثر ئې په دغه

مکتب اړه لري او هغه نظم چې کتاب ليکونکي د خپلې خوا کښلئ دئ، ټوله پوره هغه نظم دئ چې خوشحال خان ئې لوی استاد ؤ، مثلاً :

سل آرمان چې ادم ولاړئ له جـــهانه
په فراق ئې "پښتونخوا" سوله گريانه

نو د کتاب جامع ناري ئې پر خپل زاړه حال پرې ايښي دي نثر ئې د خوشحال خان د مکتب پر سبک مهذب کړئ دئ، او ځای ځای چې ئې له ځانه شعر ويلی دئ هغه هم د خټکو پيروی وه.

تر دې عصر وروسته چې نور ټوله د پښتو ليکونکي راغلي دي، د خټکو د مکتب شاگردان او پيروان دي، او د پښتو نثر سم سوئ او سلاست او ښکلی توب ئې مېندلئ دئ، مثلاً محمد حنيفه د حسن او حسين (رض) قصه داسې ليکلې ده له هغه څخه يوه کرښه دا ده :

"علی اکبر او قاسم چې دواړه ولوېدل، اهل واړه ولاړ وو، د ازل په اراده کښې کښلي دا وه".

(د راورټي گرامر ص ۱۳۵)

له لوړو مثالونو څخه به تاسې ته د پښتو د نثر سير او د سمون مثالونه ښه څرگند سوي وي د پښتو ژبه به تصنع او تکليف نه مني، نو ځکه نثر په لږ وخت کښې پر طبيعي لار روان او خوږ سو، د دې خبرې د اثبات لپاره دغه دليل کافي دئ چې د خټکو په کورنۍ کښې کاظم خان شيدا پر متکلف او متصنع او د هندي سبک او د پارسي د مصنوعي الفاظو او اعلاقو نو ملگری دئ مگر چې دغه حرکت طبيعي نه دئ نو ځکه شيدا خپل مسلک کښې ناکامه دئ او په پښتو کښې شهرت نه لري، د ده نظم خو د بيدل تر اشکال تر شيوا او تصنع هم پېچلئ او گنجلک دئ، اما نثر ئې هم يو عجيب نثر دئ چې د پښتو له طبيعي ډوله سره هيڅ نسبت نه لري مثلاً د خپل ديوان په ديباچه کښې کاږي :



"زه چې په دکان کښې د شاعری قليل البضاعت يم، او ايوان د زبان آوری زرنگار د صناعت نلرم خپل مناسبت فطري له دې شيوې سره په محفل د قصور کښې مومم او موانست جبلي لـه دې و تيرې په مراحل دورتر ..." (د شيدا د قلمي ديوان ديباچه)

که څه هم د شيدا کلام او ليک دواړه ډېر غنيمت دي، او ده د پښتو ژبې د کامل استعداد امتحان ورکړئ او وداً ئې ثابته کړې ده چې هر راز مضمون که څه هم د ژبې له طبيعي او فطري استعداده ليرې په پښتو کښې اداء کېدايسي، اما لکه د ده معاصرينو او وروسته و پښتنو چې د ده لاره نه ده منلې، موږ هم دغې ليک و شعر د پښتو سره مناسب او وړ نه گڼو.

خو مطلب دا ؤ چې دروېزه څخه بيا د خوشحال خان تر مکتب د پښتو د نثر ډول وښيو. اوس چې له دې څخه فارغ سوو نو به لږ څه پر نوی ليک هم خبرنه وکو، د سدوزو تر دورې وروسته او د محمدزو له ابتداء څخه په پښتو کښې ځينې آثار ليکل سوي دي چې موږ ئې وگورو نو به دغه آثار په يوه بل مکتب پوري اړه ولري، چې د ليک سبک ئې د خوشحال خان تر مکتب لا هم پوخ او ساده او زړه وړونکئ دئ د دې مکتب په معرفي کولو کښې د راورټي او پادري هيوز او دارمستټر او نور ډېراوږد لاس لري، او دوی د پښتو آثارو په نثر کښې ډېر ښه زيار کښلئ دئ، په دې زمانه کښې ډېرو پښتنو په نثر ليکلو کښې کمال ښکار کړئ، او يو نوی سبک ئې منځ ته راوړئ دئ.

د دې سبک يو روڼ ستوری د پېښور منشي احمدجان ؤ. د ده د نثر ليکلو قلم خورا سليس او روان دئ که محترم لوستونکي زما سره اتفاق کوي نو به زه دغه د محمد زو د دورې مکتب د ده په نوم ياد کم، يعني "د منشي احمدجان د نثر مکتب" ځکه چې زه د اخوند دروېزه او خوشحال خان خټک وروسته په دې نږدو زمانو

کښې مولوي احمدجان د پښتو ژبې يو زبردست اديب او نثر ليکونکی ګڼم. مولوی احمدجان د پښتو نثر ته لوی خدمت کړئ او ښه ښه ليکونه ئې پرېښي دي په ليک کښې د طبيعي ارتقاء مراتب هم سته مثلاً : ګنج پښتو او د سلطان محمود تاريخ چې ده له فرشته څخه ترجمه کړئ دئ او پادري هيوز په (۱۸۹۳ ع) په کليد افغاني کښې چاپ کئ زما په عقيده د ده د ليک اومه آثار دي، وروسته چې ئې قلم پوخ سوئ او په ليک کښې استاد سوئ دئ نو ئې د مليسون د افغانستان انګريزي تاريخ (۹) پښتو کړئ او يو ابدي شهکار ئې د پښتو نثر ته پريښي دئ په دې کتاب کښې د ترجمې اثر نه دئ ښکاره، او دا خو نو د ليکونکي پر مهارت او استادي ښه دلالت کوي، د مثال په ډول دا جمله وواياست :

"د نادرشاه په مرګ د پښتنو د لاس خپو خوځولو وخت راغئ، کوم وخت چې دې ګټندوی افغانستان واخيست او د پښتنو خاص پوځ ئې جوړاوه نو د سدوزو قام سردار احمد خان نومی چې لا د ځورلسو کالو هلک ؤ، راوې غوښت او د ماژندران علاقه ئې ورته په حواله کړه..."

د محمدزو له پاچهی څخه خو لږ وروسته د افغانستان جګړې او اړودوړ هم ؤ نو ځکه پښتو ژبه هغسې پاته وه البته د پېښور پر خوا، ښه ښه ليکونکي پيدا سوه، مګر سبک خو هغه ؤ چې مولوی احمدخان ايښئ ؤ، تر دې وروسته د امير شېر علي خان مدنيت پالونکي پاچا په توجه په افغانستان او هم د پېښور په خواو کښې د پښتو ليک څه نه څه عام سو، د هند او پېښور چاپخانې ډيري سوې، نو ځکه هر چا چې څه ليکل چاپېدل به.

د امير عبدالرحمن خان په عصر کښې څو پښتو کتابونه په کابل کښې چاپ سول، چې له هغو څخه يو د هغه امير خبري دي د هند له ويسرا او نائب السلطنه سره چې ډفرين نومېدئ، دا کتاب "سوال



و جواب دولتی" نوميږئ او د هغه مجلس رويداد دي چې امير په راولپنډۍ کښې په پنجشنبې (١٦) د ځلورمې خور (۱۳۰۲ ھ) د نائب السلطنه سره کړي دي ليکونکي يې ملا غلام محمد لغمانی دئ او د چاپ تاريخ ئې (۱۳۰۳ ھ) کال دئ، د دې کتاب ليک که څه هم سليس دئ اما د ترجمې رنګ لري، او داسې ښکاري چې ليکونکي ئې د پارسو تسويد مخته ايښې او ټکي په ټکي ئې لکه ځيني اوسني ليکونکي ترجمه کړئ دئ، مثلاً :

" فقره دويمه : له دارالسلطنه د کابل څو کسه کاريګر هر فن لره لپاره د يادولو د هنرونو مقرره وم چې لندن وته تلئ، هنرونه چې په کار د دولت خدای ورکړي افغانستان دي او ترقي و جوړښت د دولت له هغو ځني حاصليږي زده ئې کاندي ص ۷۱"

سره له دغه چې ليکونکي ئې د ترجمې تر اغيزي لاندي دئ مګر مطلب ئې ښه اداء کړئ او عبارات ئې روښه دي. د امير عبدالرحمن خان او امير حبيب الله خان په وختو کښې پښتو ډېره وه ځني خصوصي کاغذونه هم په پښتو ليکل کېده، هغه وخت چې په حبيبه مکتب کښې د پښتو لوست رسمي سو نو مرحوم مولوی صالح محمد خان کندهاری څو کتابونه وليکل، د ده د پښتو قلم خو ښکاره ښه قلم ؤ د ترجمې تکلف ئې په ليک کښې لږ دئ لومړی سړی دئ چې د پښتو نوی ژوندون په تحريک کښې ئې تر ټولو دمخه قلم اخيستئ او کتابونه ئې ليکي دي د ده د نثر نمونه :

"يو فقير ته چا وويل : ډوډی له کومه کوې؟ و غاښو او نس ته ئې اشارت وکئ ويل : هغه چا چې غاښونه او نس راکړي دي ډوډی هم راکوي." (د پښتو دوهم کتاب ص ٥٦)

دا خو د استقلال تر جهاد دمخه د پښتو د ليک يوه نمونه ګوڼې وه وروسته چې د " پښتو مرکه" جوړه سوه او د پښتو د ژوندون تحريکات تاوده سوه د پښتو نثر ته که څه هم چا مخصوصاً توجه نه

درلوده مگر بیا هم څه نه څه نثر لیکلی سوئ او ځینې نوشتې په اخبارونو او مطبوعاتو کښې سته، او په دغه وختونو کښې د پېښور او د سرحدي صوبې پښتانه هم ویښ سوي او د پښتو منثور کتابونه او لیکونه خپاره سوي او په ځینې اخبارونو کښې د پښتو برخې ولیکلې سوې، د پښتو د ادبي نشاط مراکز په پېښور کښې اسلامیه کالج او د وطن خواهانو گندونه دي، چې دا ډېر عمر په پښتون، آزاد پښتو سرحد، خیبراو نورو اخبارونو او مجلو کښې ښه منثور مضامین لیکل کیږي، او ډېر کتابونه او رومانونه او ډرامې په پښتو کښلې سوي او چاپ سوي دي په دغو آثارو کښې زموږ د پښتو ژبې د نثر پاخه او ښه ښه لیکونکي سته، په اکثرو اخبارونو کښې منثور لیک چې کیږي سبک ئې خوږ او ښه دئ، د سرحدي صوبې د لیکونکو مضامین چې موږ څه لیدلي دي غوره ئې د هلالي، رسا، اسیر، خلیق او نور ... دي په پښتو نشریاتو کښې د اتمانزو د پښتون اخبار ژبه ډېره سلیسه او خوږه ده چې د هغې خوا د لیک او نثر غوره لب لباب گاڼه سي، په دې مجله کښې چې هغو پښتنو مضامین لیکل د پښتنو د پیاوړو لیکونکو څخه وه، پخپله د خان عبدالغفار خان د پښتو لیک خورا خوږ او روڼ او بې وله دئ، د پښتون د تاریخ لیکونکي مرحوم قاضي عطاء الله خان نثر هم غوره دئ، ماسټر عبدالکریم خان چې ننني دنیا پر سیاست څه لیکل هغه خو استادانه لیک وُ، خلاصه دا مجله د هغو پښتنو د اوسني غوره نثر نمایندگي له اتمانزو څخه کوي او خدمات ئې پښتو نثر ته د منلو او ویاړلو وړ وو.

زموږ په وطن کښې دننه خو چې تر (۱۳۱۰ ش) را وروسته د پښتو د ژوندون تحریک شروع سو په دې (۴۰) کال کښې ډېر پښتو لیکونکي ومیندل سوه ځکه چې هر کار په مزاوله او مشق لوړیږي نو زموږ د لیکونکو د نثر لیکلو قلمونه هم ورو ورو ښه پاخه سوه ځکه چې پښتو د دوي مورنۍ ژبه ده نو ئې لیک فقط لږ توجه وغوښته.



دا وه د پښتو نثر ته لنډه یوه کتنه چې ما ئې په لنډولو کښې هم سعي وکړه، مطلب خو دا وُ چې د پښتو د نثر مختلفي دورې او هغه څوک چې په دې لاره کښې ئې خدمت کړئ دئ وښوول سي، اوس به نو د پښتو نثر ته یوه تنقیدي او تحلیلي کتنه هم وکو، دمخه وایم چې دا فقط زما رایه د سهوي او صواب احتمال لري که زه مصیب وم خو ښه تر ښه، او که سهوه مي وکړه پښتانه به مي معاف کي او زما سهوه به اصلاح کي، ځکه چې وایم موږ د ژبې د نثر لیکلو لارې پلټو، نو په دې مرحله کښې دا لازمه ده چې آراء ښکاره سي او افکار څرگند سي چې گوندي یو روڼ حقیقت تر دغه منځ وخلیږي.

## تحلیلي او انتقادي کتنه :

زموږ د مقالې اصلي مطلب هم دغه دئ, ځکه چې په دمخو برخو کي خو یوازې د پښتو نثر ته تاریخي لنډه کتنه وسوه او لږ لږ نمونې یې هم وړاندې کړه سوې. دا خو د مقالې زړه دئ خدای دې وکي چې زه یې سم ولیکم.

د پښتو ژبې لومړنې د نثر آثار چې دمخه وښوول سوه د دې ژبې له جوړښتې نثر څخه ډېر لیرې او پر بله خوا اوښتې دي. پیر روښان او اخوند درویزه او د دوی د نثر د مکتب شاگردان چې ټوله پر یوه لار تللي وه, زما په خیال دوی د خپل سبک په غوره کولو تر یوې اندازې مجبوره وه, دوی خپل نثر د نظم په رنگ رنگاوه ځکه چې دوی مبلغین وو, او تر انشا یې د تبلیغ او تلقین پله درنه وه. دوی غوښته چې ځینې دیني مطالب پښتنو ته تبلیغ کي, او خپل دښمن د تبلیغ په .. (دا توري نه ویل کېده) مات کي. ځکه چې غلیم د شعر او نظم له خوا تبلیغ کاوه نو دوی هم غوښته چې په هغه ډول وسله د ده سره مقابله وکي.

دا يوه تاريخي مسئله ده او پلټنه يې هم د تاريخ په مخو كې پيدا كېداى سي. د هجرت د زرم كال (۱۰۰۰ هـ) شاوخوا چې په هندوستان كي د مغولو د كورنى د پاچهانو برم و، د هغه عصر مدنيت او ثقافت ډېر نوى شيان وزېږول. لكه په بغداد كې چې د عباسيانو د خلافت برم او جلال مستظرفه صنايع او شعر و ادب او فن او فلسفي افكار او مذاهب خپاره كړه، او هغسې هم تر دوى وروسته د غزنوي ټولواكانو او د محمودي شاهنشاهۍ عروج او لوړتيا بيا فنون او صنايع او علم وروزله. په دغه ډول د هند د مغولو امپراطورۍ هم په هند كې نوى ثقافت او مدنيت وموند، او نوي افكار او فلسفي ارا يې ژوندي كړه.

كه څوك تاريخ وګوري د عباسي خلافت په دوره كې شام او عراق او بغداد او ايران ټوله په نوو فلسفي او علمي افكار ډك وُ، حتى د خلفاوو په دربارونو كې پر نوو فلسفي خبرو بحثونه كېده. د اعتزال فرقې خو په دې دوره كې وده او لويښت وكړ، فلسفي آرا او عقايد هم په دغه دوره كې روزل كېده. وروسته چې غزني د ايشيا علمي او سياسي مركز سو نو دغه علمي او فلسفي او فني تحريكونه كټ مټ دلته راغله. د البيروني او ابن سينا علمي او فلسفي اثار خو موږ ته د دې ثقافت فلسفي او علمي اړخ ښه راښكاره كوي. دا دوره خو د باطنيه او قرامطه فرقو د نشاط دوره وه، سلطان محمود خو واره د دوى سره جګړې وكړې. د غزني دغه فلسفي او علمي او فني نهضت خورا وروسته د چنګېز خان په هجوم ورك سو. مسلمانان په وينو كې ولغښته، مګر څو پېړۍ وروسته په هند كې د مغلو شاهنشاهي بابر تاسيس كړه. د مغولو د امپراطورۍ د ثقافت خښته لا دمخه پښتنو اېښې وه. د لوديانو او د سوري شېرشاه پښتون د مدنيت او ثقافت ژوندى آثار مغولو ته پاته سوه. نو څكه دوى هم هغه ثقافت وپاله ژوندى يې وساته. علوم، فنون، صنايع، ادبيات او فلسفي



افكار بيا لكه بغداد او غزني او ډهلي څخه خپاره سوه. كه د بغداد او غزني د نفيس صنعت آثار د زمانې انقلابونو نه واى وران كړي، نو به اوس لكه د ډهلي او اګرې شاهي مانۍ د تعمير د فن ښكاره آثار موجود واى او دنيا به ورته حيرانه واى. خير!

خو مطلب دا دئ چې د مغولو د ثقافت سره علم او فلسفې او ادب هم بيا عروج وموند. د مغولي اكبر دربار لكه د منصور او هارون او مامون دربارونه له علمي او فلسفي افكار ډك و. په دغه تاريخي څېړنه كي مو مقصد دا دئ چې هره زمانه بېل ثقافت لري او هر ثقافت خانله ديني او فلسفي افكار هم لري. نو څكه د بغداد او غزني د ثقافت عروج چې ځيني افكار او آرا خپاره كړي وو، دغسې هم د ډهلي د مغولو د شاهنشاهۍ سره ځيني نوي انديښنې او نوي فلسفي افكار پيدا سوه.

پښتونخوا خو هندوستان ته ورڅرمه ده. هر حركت كه فلسفي وُ كه علمي چې هلته به كېدئ پر دې خوا يې آثار ښكارېده، بلكې د اباسين مغربي غاړې او د پښتونخوا غرونه چې د هند د امپراطورۍ له تسلطه ليري وه د اكثرو فلسفي او سياسي تحريكونو مركز هم وُ. كه تاسي د اخوند درويزه پښتو مخزن او تذكره الابرار وګورئ ډېر داسي خلك په دې خواوو كې ښيې او ځانته بيلي عقيدې او مذهب لري، او ټوله په تبليغ بوخت وو. دغو ټولو تبليغي حركاتو كې د روښان پير فلسفي او مذهبي حركت مهم وُ. دا سړى ځان له بېل مسلك لري چې د فلسفې او تصوف رنګ يې غالب دئ. نو د دغو تحريكونو په مخ كې خو د علماوو تبليغ او مقابله هم طبيعي وه. څكه نو موږ د هغه دور اكثر آثار چې پښتنو علماوو كښلي دي تبليغي وينو چې دوى د مخاليفينو زده كړي يا يې ځيني ديني مسايل څرګند كړي دي. موږ دمخه وليكل : چې روښان او درويزه او د دوى د مكتب شاګردان خو د پښتو د نثر په دغو غوره كړي

سبک کې تر يوې اندازې ناچار هم ؤ سبب يې دا ؤ چې هغه وخت څه په هند څه په پښتونخوا کې خلکو شعر او نظم ډېر خوښاوه. نو روښان پير او نورو ټولو د خپلو مطالبو تبليغ په نظم کاوه. اخوند دورېزه پخپله کاږي چې تاريک پير پښتو شعر وايه نو ځکه ده هم د هغو سره په پښتو شعر مقابله وکړه.

"و او به زبانی افغانی شعر میگفت و سب شرایع و علماء میکرد و شعر های لایعنی به افغانان مینمود پس این فقیر بر خلاف او شعر افغانی اغاز کرد حتی در شاعری قدم ازو پیشتر نهاد و اکثر خلق را از متابعت او باز آورده ..." (مخزن قلمی)

بل ځای پخپله اخوند درويزه خپل عذر هم وايي :

"بدان ای عزیز که در اشعار افغانی شعراء ایشان چندان مبالغه در فصاحت و موافقت در قافیه و تطبیق مصراعین در حروف و کلمات رعایت نداشته اند و هم از انرو که فقیر را دغدغهٔ شعر و شاعری نبوده تا دران سعی نماید. مگر اینقدر که اندک, و پیش سخن موزون گردد تا سامع را لذت نماید"

(مخزن)

د اخوند درويزه د سبک د غوره کولو لوی سبب خو هم دغه ؤ, چې ده او نورو ملګرو يې نيم منظوم اشعار و ويل چې اوس يې موږ نثر ګڼو, خو کرکېچن او بې خونده !

دا خو تقريباً يو طبيعي سايق ؤ او د پارسو او عربي ژبو د مرسل او فني نثر اثرونه هم په دماغو کې وه. ځکه د پښتو لومړی نثر هم مسجع او مقفی سو, چې هغه د پښتو حقيقي غير متصنع اهليت او خوږوالی نه پکښي ليدل کيږي.

د مخزن او فوائد الشريعه او بابوجان ژبه خو پښتو ده اما دا ژبه طبيعي هم نه ده, بلکې په تکلف جوړه سوېده, په داسي ځايو کې چې د پښتو ژبې مروج او کارامد لغات او کلمات وو بې ځايه او بې



موقعه تصنعاً پارسي او نور کلمات مستعمل سويدي سړی چې وايي ليکونکي د پښتو ژبې د کره کلماتو د ورکولو اراده درلوده, او پښتو يې د نورو ژبو سره ګډوله.

دا ښکاره ده چې پښتو دغي يوه مصنوعي او ګډه وډه ژبه نه وه, اما تبش د ليکونکي قلم هغسي پر بل ډول راواړوله. په هغه دوره کې خو د منځنی ايشيا په ادب کې خلکو د مسجع او مقفع ليکنو ته په درنه سترګه کتل. نو هغه لوړ ذکر سوي عوامل چې موږ تحليل کړه, او دغه عمومي خوند چې د پارسي د وصاف او تاريخ معجم او شمسه وقهقه له سبکه راغلی و د روښان او اخوند درويزه د مکتب جوړه سوې ژبه يې وزېږوله. او په نثر کې يې داسي سبک راګډ کئ چې د ژبې سپېڅلې فطرت کورټ نه مانه ! تر دې وروسته خوشحال خان پښتو ته خدمت وکئ, يعنی د نثر او نظم تر منځ يې حد وټاکئ نظم يې په خپله دايره کې وروزه, او نثر ته يې بېله وده او لوبښت ورکړ.

د خوشحال خان د مکتب نثر خو لږ خوږ او نسبتاً سليس دئ د ژبې محاورات او خصوصي مزايا خو ډېر ځکه پکښي ساتل سويدي مګر سره د دې ځيني معايب هم لري يعني د ښه خوا يې ډېره او عيوب يې نسبتاً لږ دي.

د دې مکتب شاګردانو که څه هم د پردو لغاتو او کلماتو په استعمال کې افراط نه دئ کړئ او بېله مينه يې نه ورسره درلوده مګر سره د دې هم دوی کله ــ کله پردي کلمات بې ځايه استعمال کړيدي, يعنی که څه هم پښتو سوچه کلمات مستعمل وه مګر دوی نه دي راوړي, او کله ــ کله د پرديو ژبو د ترجمې تر اثر هم لاندي دي. د منشي احمد جان پېښوري (متوفی ۱۳۳۰ هـ) مکتب له دې عيوبو پاک دئ ډېر لږ بلکي ندرتاً د پښتو خپل خصوصي طرز پربردي جملې په داسي ډول اداء کوي چې د پښتو له فصاحته نه

وزي. اجنبي لغات لږ ـ لږ استعمالوي او بې ځايه او بې اړتيا به خورا لږ ده پردی کلمې ليکلې وي. نو پر طبيعي سير سم د پښتو نثر په خپلو څلورو دورو کې تدريجي ارتقاء او سمون موندلی دئ. د سليمان ماکو نثر طبيعت ته نژدې ؤ، روښان او دروېزه نيم منثور آثار وليکل. د خوشحال خان مکتب نظم او نثر سره ښېل کړه. د منشي احمدجان مکتب د پښتو د حقيقي او خواږه نثر تيره ټينګه کړه، اوسني نثر ليکونکي خو هم ډېر او غنيمت دي. مګر ښايي چې موږ په نثر کې ځيني اساسي خبرې هيرې نه کړو، زه به لاندې ځينې د نثر ليکلو ضروري مواد د مثالونو سره وليکم :

۱ ـ لومړی اصل دغه ؤ چې د پښتو تحرير او تقرير يعني ويل او ليکل سره يو وي يعني موږ د خپلې ژبې ليک او لوست د نورو په تقليد سره ښېل نه کو. د پياوړي ليکونکي ليک تل د ژبې پر فطري او اصلي لار سم وي. مثلاً : دا جملې چې د پښتو يو پياوړي ليکونکي کښلي دي تاسي يې وګورئ چې د پښتو د خپل او خصوصي ډول سره څنګه سمې او په عين دغه صفت کې څومره صلابت او خوږوالی لري :

"د يو ملت په ژبه کې که هر څومره د بل ملت ژبه نفوذ پيدا کړي، هماغومره سياست، اقتصاد، اجتماعيات، ملي اخلاق، ملي ادب، ملي عادات، ملي رسومات او ټوله ملي خصائص او عنعنات تر دې چې ذهنيت، افکار، معاشات او تهذيب ټول يې د ژبې والا ملت تابع کيږي. نو که د يو ملت ژبه د بل ملت ژبې ته مغلوبه سوه. ګڼه دغه ملت په دغه پاسنيو ټولو خصائصو کې ورته پر سو ... "

(د کابل سالنامه ۱۳۱۸)

تاسي وګورئ موضوع خو داسې ده چې طبعاً بايد ډېر عربي کلمات استعمال سي ځکه چې اوس سملاسي يې موږ په پښتو مقابل نه وينو اما د کلام صلابت او لوړتيا د پښتو سره سمه ده، او د پردو



کلماتو ډېر استعمال د پښتو رنګ نه دئ ور کړغېړن کړئ دا خو د ليکونکي په پښتني او علمي او قلمي استعداد اړه لري، چې خپل کلام هيڅکله د نورو ژبو په رنګ ونه رنګوي. په دې لوړو جملو کې که څه هم د "نفوذ پيدا کړي" پر ځای "نفوذ وموومي" او د ملي رسوماتو پر ځای "ملي دودونه" نسبتاً پښتو کلمات وه، مګر د کلام روح خو پښتني دئ نو ځکه دې اهمال نه دئ معيوب کړی، اوس به نو وګورو دې جملې ته :

" ...خپل نظر هغه د سرميزي ساعت په لوري واچوه چې د ده د مېز په خوا کې ايښی ؤ، او ويې ليده چې نژدې غرمه او يوولس بجې او بس فقط همهغه وخت دئ چې دی بايد خپل دوهم سګرېټ وڅکوي او پخپله آرام څوکۍ باندې يې تکيه لګولې د اور لګونې مخصوصې قطعې سره يې خپل سګرېټ ته اور ورته کړی او په څکولو لګيا سو."

په دې جمله کې ليکونکی د ترجمې له اغيزې څخه نه دئ وتلی تر دې اندازې چې لومړی جمله يې تقريباً د پښتو د کلام له ډوله ليرې ده، ولې چې "نظر اچول" عيناً د نظر افګندن ترجمه ده او (هغه) هم بې ځايه استعمال سوی دئ دغه جمله د پښتو د خبرو سره سمه بايد داسې وای :

"... خپل هغه سرميزي ساعت ته يې وکتل چې د ده د مېز پر يوه خوا پروت ؤ." او بل "واچوه" خو امر حاضر دئ. ماضي مطلق يې "واچاوه" دئ او په دوهمه جمله کې فاعل نه دئ معلوم. نو وروسته بايد (ماله ليسم فاعله) فعل په مجهول ډول ذکر سي يعني داسي :-

"چې ده د مېز پر يوه خوا ايښی ؤ" دلته به يې نو (ده) فاعل سي. اما بيا هم (په يوه خوا کې) دا معنی لري چې ساعت دننه په مېز کې ؤ، حال دا چې ساعت دننه په مېز کې نه ږدي، بلکې د

((ميز پر يوه خوا پروت وي)) يا د ((ميز پر يوه خوا اېښو سوی وي)) په ځای کي دا جمله ((د اورلګوني مخصوصه قطعی سره يې خپل سګرېټ ته اور ورته کړي)) که څه هم ليکونکي يوه خورا ښه کلمه ((اورلګونی)) دلته ميندلې او استعمال کړېده چي د قدر وړ ده. اما په پښتو کي ((سره)) د معيت معنی افاده کوي مګر په هغه وخت کي چي (په) يې دمخه راسي. هلته نو البته تعدی ځني مطلب وي مثلاً ((د اورلګيت سره يې خپل سګرېټ ته اور ورته کئ)) نه ويل کيږي، او دا معنی ورکوي : اورلګيت او سګرېټ دواړو اور واخيست نو ښايي چي داسي و ويل سي او وليکل سي :

"په اورلګوني مخصوص قطعی يې خپل سګرېټ ته اور ورته کړ..." دلته که سره ذکر نسي هم ښه معنی ورکوي، نو لکه تاسي چي وليدله دغه جمله هغسي نده چي ليکل او ويل دي سره يو وي! نو يې د پردی ژبي رنګ اخيستی دئ او د پښتو ښکړي يې بايللي دي.

۲ ـ د پښتو نثر دوهم مهم عنصر دا وُ چي د لغاتو او محاوراتو په غوره کولو کي د ادبي غورو موادو پلټنه وسي او هغه افضل وګڼه سي، چي د ژبي د اصلي ښکړو سره ښتون ولري او حتی المقدور د پښتو سوچه او کره لغات مستعمل او رواج سي. مثلاً په لوړو جملو کي ښاغلي ليکونکي د پښتو يوه اله ((اورلګونی)) په ښه ډول استعمال کړې دی چي هم يې سړی ژر په معنی پوهيږي او هم پښتو دی. چي پخوا په پښتو کي دغسي نه وُ مستعمل. داسي مواد که څه هم اوس په فردي حيث وليکل سي مګر وروسته خپريږي او ورو ـ ورو منل کيږي. مګر داسي کلمات بايد مستهجن او مکروه نه وي او د ژبي له اصلي ستې سره سم او د پوهې وړ وي، مثلاً ليموناد يا سوډا چي په ګيس بوتل کي وي يو چا د بوتل د سر ماتولو په تقريب ((ټس اوبه)) يا يې مثلاً طياره په پښتو ((ساه ببړی)) بللې ده



لومړی کلمه خو ډېره مکروه او دوهمه کلمه هم د ژبي له اصلي استعماله ليري ده. ځکه چي ((ساه)) په پښتو پر عمومي هوا نه اطلاقيږي بلکي صرف نفس ته وايي خير ! دا بحث خو اوږد دئ په يوه بېله مقاله کي ښايي چي له هري خوا وپلټل سي !

۳ ـ نثر خو په اساساً دوه ډوله دئ :

لومړی دا چي د ليک موضوع د بل چا وي او ليکونکی يې تش ژباړه کوي دا ژباړه آسان کار نه دئ، او کله ترجمه د ځان تر ليکني زور غواړي لکه دمخه چي مو ويلي وه په ترجمه کي دا لاندي ابتدايي خبري ضروري دي :

الف : د ژبي خپل جوړښت ساتل او خپله ژبه د پردی ژبي تر اغيزي نه لاندي کول.

ب : حتی المقدور خپل کلمات ليکل او له پرديو څخه ژبه ژغورل.

ج : د ژبي خصوصي محاورات استعمالول.

د : د جملو او فقرو په داسي ډول سره نښلول چي ويونکی دا خيال ونه کي چي مضمون ترجمه سوی دئ.

هـ : تحت اللفظ ترجمه نه کول.

و : د عباراتو او جملو بساطت او سادګي

ز : پرېکړي او سره بېلي جملې، او معترضي جملې له منځه ايستل.

ح : هغه اوږدې جملې چي ويونکی يې په مبتداء او خبر کي ورکيږي، پر کوچنيوجملو وېشل او مطلب ښکاره اداء کول.

ی : د ژبي صلابت او فطري متانت ساتل، يعنی د پرديو ژبو په ډول ډېر پاسته الفاظ نه ليکل او صرف په تقليد د ژبي آهنګ نه ورانول، ځکه چي هره ژبه د خپل ملت له سايکالوژی سره سمه د کلماتو انسجام او اداء مخصوص طرز او آهنګ لري.

دوهم ـ هغه نثر دئ چي سړی له ځانه کوم مضمون ليکي. دا خو د مقالې ليکلو فن دئ چي ډېر اهميت لري او د ادبياتو لويه څانگه ده. د مقالې ليکلو فن خورا گران دئ. لکه انځورگر (رسام او نقاش) چي يو شی په خورا ښه ډول انځور کوي چي د طبيعي او مصنوعي فرق يې سړی نه سي کولای. دغسي هم مقاله ليکونکی يوه معنا او مضمون په داسي ډول ليکي چي ويونکی يې لکه ليدونکی وي, يعنی هغه خوند چي په يوه موضوع کي سړی په ليدلو او مشاهده اخيستلای سي ښايي د مقالې له ويلو يې هم واخلي, دا خو د مقالې د ليک اساسي تيره ده د عربو په اصطلاح د مقالو ليک يو سهل ممتنع فن يعنی اسانه او گران دئ.

اسان له دې کبله دی هر څه چي زموږ په فکر کي وي يا يې په خوله وايو. کټ مټ به دغسي ليکو. اما گران خو هم دئ ځکه ښايي چي سړی خپل مطلب او د زړه خبره په داسي الفاظو او عباراتو وليکي چي ويونکی بېله هيڅ تکليفه په وپوهيږي او له ويلو څخه يې خوند واخلي. په اروپا کي بېل مکتبونه سته چي دا کار د يوه بېل فن په ډول پکښي زده کوي, دا فن پر فطري استعداد او لياقت زيات مشق او مزاوله هم غواړي هر د معلوماتو خاوند يا ليکونکی ښه مضمون نه سي کښلای. په پوهانو او نوميالیو حکماوو کي چي دوی ښه علم او حکمت درلود او ژبه ور خلک وو, ډېر داسي وو چي د ليک قلم يې نه درلود او ډېر ښه ليکونکي بيا وو چي ژبه يې نه درلوده, هغه چي يې په قلم کښلای سوای په ژبه يې نسوای ويلای.

د انشاء لپاره خو ځيني مثبت قواعد او لاري سته چي زموږ زوړ علم او ادب په ډک دئ مگر د دې زمانې ليک او انشاء د پخوا سره ډېر فرق لري. پخوا به ليکونکي زيار کيښ چي عبارات يې گران او درانه او گنجلک وي په قافيو او سجعو پسي به گرځېدی مرسل او



فني ليک يې د ځان کمال گاڼه. کله به د گرانو لغاتو او کلماتو په استعمال دومره گرندی سو چي مطلب به ځني هير ؤ. که موږ د وصاف او د ميرزا مهدي او بيدل ليکونه وگورو, دا به ښکاره سي چي دوی په څه لايزار ماغزه ستړي کړي او په اغلاق افريني کې تر کومه حده ځغستلي دي؟ که د دوی مطلب د تاريخ ليکل وه, هغه خو په سمو او ساده الفاظو هم ليکل کېدئ, او مطلب لا ښه ځني څرگنديدئ؟ اما لکه چي دوی فقط يوه زمينه د خپل لياقت د څرگندولو لپاره غوښته, تاريخ ليکنه يې ضمني او اړخکي مطلب ؤ, اصلي مقصد يې د خپل لغوي استعداد او اشکال تراشۍ ښکاره کول ؤ ! ... د اوسنۍ زمانې نثر خو د پخوا سره خورا ډېر فرق لري. د الفاظو ځيني ضروريات خو مو دمخه وښوو. اوس به نو د مضمون ليکلو په اصل او روح کي هم لږ څه فکر ووهو. د نثر تر ليک دمخه دا لازمه ده چي ليکونکی وگوري چي زما ليک د چا لپاره دئ ؟ او څه نتيجه ځني اخلم ! لکه يو معلم چي د خپلو شاگردانو پوهني او د دوی فکر ته گوري, وروسته نو خبري ورته کوي. دغسي هم ښايي چي د مقالې ليکونکی د خپلو ويونکو فکر او پوهنه وويني نو د هغې سره سم ليک وکي.

نثر ليکونکی ښايي چي لومړی پلا د خپل ليک موضوع له ځانه سره وسنجوي او ښه فکر و وهي چي زه څه ليکم؟ او دغه مطلب په څه ډول وکاږم؟ نو به ښه او اغېزمن وي. د ليک ترتيب, عبارات, د جملو سره نښول او د مطلب د ليکلو ډول ښايي چي دمخه لا د ليکونکي په ذهن کي وي. وروسته نو قلم راواخلي او مضمون وليکي.

پښتو خو خورا ساده او سپېڅلې ژبه ده. هيڅ تکلف او تصنع نه مني. په ليک کي يې فقط ليکونکي ته دا وړ ده چي خپل فکري موضوع په ساده او بيلو الفاظو وليکي لکه چي يوه خبره په خوله

کوي. کټ مټ يې په قلم هم وکاږي. الفاظ يې صريح الدلالته وي. مغلق کنايات او تشبيهونه او ګډوډ تلازمات د پرديو ژبو په تقليد نه وي پکښې، چې مطلب يې په ليک کې ښه روڼ سي.

متأسفانه اوس پښتو ليک ډېر د نورو تر اثر لاندې سوی تر دې اندازې چې سړی يې په مطلب نه پوهيږي هغه جرايد چې پښتو ليکي يا هغه خبرونه او مقالې چې په هوايي څپو کې خپريږي داسې ترجمه کيږي چې اکثر يې پښتو نسي بللای. يوه ژبه ده چې نوې جوړيږي او ډېر عجايب لري او که يې پښتانه واوري نه په پوهيږي او له خارجي ژبو څخه داسې ناوړه عبارتونه پکښې راګډيږي:

ـ رول لوبول: يعنی څه؟ دا کومه او د کوم ځای پښتو ده؟

ـ نقش پر غاړه لري: دا څنګه پښتو ده؟

ـ ريالست يې پر غاړه و. څنګه؟

ـ تصميم يې نيولی دئ. څنګه؟ تصميم څه شی دئ او څنګه نيول کيږي؟

ـ تماس ونيو. يعني څه؟ او که يې طرف ښځه وي نو ...

ـ يو لړ خبرې. يو لړ معلومات. يو لړ مکتبونه. يو لړ هر څه ... دې ته په پښتو کې ضرورت نسته. يو څو خبرې، يو څه معلومات، يو څه مکتبونه کافي دي دا د ((يک سلسله)) ناوړه ترجمه ده او د پښتو د ګلونو په لړ کې لکه يو اغزی.

ـ د ورځې له پلوه، د شپې له پلوه. دا هم د ترجمې ناوړه اثر دئ ((از طرف صبح يا از طرف شب)). په پښتو کې د ورځې د شپې کافي دي له پلوه نه غواړي. وايي: د ورځې باران وسو او د شپې کورته ځم. له پلوه زايد او ناوړه دئ.

ـ تر څو چې؟ اکثرو ځايو کې (تر څو) ته ضرورت نسته پخپله (چې) بياني مقصد افاده کوي.



ـ له (امله)؟ پخپله دا کلمه (امله) مجرده نا مستعمله کلمه ده او که هم وي نو مفغنه ده (له عمله) دا بايد په هر ځای کې ونه نښلوله سي اوس يې دوني تعميم کړی دئ چې نه ښايي، دا اوس لکه د يوناني طبيبانو بدرقه داسې ګرزېدلې ده چې په هره دوا يې ګډوي. پلاني مامور د پلاني کار د کتني لپاره نه ځي د کتنې له امله ځي.

که پر آسمان يو لړ اوريځ پيدا سي نو به له دې امله باران واوري. په دې جمله کې ضرور نه ده ((نو به)) هغه تعليلي مطلب په ښه ډول افاده کوي او دا جمله داسې اضافه پښتو ده چې و ويل سي: سبا به پر آسمان يو څه اوريځې راوخيژي نو به باران واوري.

ـ پاملرنه؟ دا نوې جوړه کړې کلمه هم خورا بې ځايه ډېره استعمالږي په راډيو کې اورو: پاملرنه وکړئ! يا: پاملرنه راګرزوو چې د دوی په ژبه د توجه کنند يا توجه را جلب ميکنم ترجمه ده. مګر داسې پاملرنه په پښتو ويونکو خلکو کې نسته دوی وايي: پام کوه! پام ورته کوه! پام پسې کوه! پام پر کوه.

ـ دپاره؟ مثلاً د ځلرم ځلي دپاره چې کټ مټ د ((براي نوبت چهارم)) ترجمه ده، دلته په پښتو کې دپاره زايد دئ. لکه: پلار زوی ته ځلرم ځلي و ويل. دلته داسې نه وايو: چې د ځلرم ځلي دپاره يې ورته و ويل.

مثلاً: پلاني سړې پهلوانان ومنل. يعنی پخپل حضور کې بارياب کړل. دغه منل هم د ((پذيرفت)) ناقصه او ناوړه ترجمه ده او څوک په دغه نوې معنی نه پوهيږي. تر محاکمې لاندې ونيول سو. چې د ((تحت محاکم ګرفته شده)) ناوړه ترجمه ده او د پښتو ژبه نده دلته بايد داسې و ويل سي چې محاکمه کيږي. يا به محاکمه سي، يا محاکمه پر چليږي. يوه اندازه اوريځ به پيدا سي دلته پښتانه وايي چې يو څه اوريځ به راوخيژي. يوه اندازه فقط د ((يک اندازه))

ناوړه ترجمه ده. يو شمېر د يک تعداد ناوړه او ازموخته ترجمه ده يو شمېر خلک يو شمېر کتاب، يو شمېر هر څه او هر څه دلته پښتانه وايي : يو څو خلک يا يو څه خلک. يو څو کتابونه يا يو څه کتابونه يو څه يې ورته و ويل. يو څو خبري يې وکړې دا کوم يو پښتون وايي : چې يو شمېر خبري بې وکړې. پخپله شمېر او شمېرل د تعدد طبيعت لري يو څنګه شمېر کيږي ! چې تر يوه زيات وي نو شمېر ممکن وي دا ناوړه ترجمه د انساني منطقه هم ليري ده

نقش : دا کلمه هم د ايران د مطبوعاتو څخه راغله. او اوس په دواړو ژبو کې بې تحقيقه داخله سوه "نقش بازی کرد" په نقش لوباوه ترجمه سو يا مهم نقش لري چې د "نقش مهم دارد" ترجمه ده. نقش چې عربي کلمه ده دغه معاني نلري او ناحقه په پښتو راګډ سو په پښتو کې بايد و ويل سي : لويه برخه پکښي لري يا لوی لاس پکښي لري.

"دران قضيه نقش مهمی بازی کرد" دا خو د اصلي ژبې تعبير هم نه دئ مګر په پښتو دغه مطلب بل راز اداء کيږي : په هغه شخړه کې لاس واهه ! شخړه يې وشلوله ! پر هغې شخړې بې ډېره اغېزه وکړه ... کله کله چې زه د پښتنو سره د دغو ناوړو خبري کوم له ما دا پوښتنه وسي چې دغه لوړ او عالي نثر چې تاسي غواړئ څنګه او کوم او چيري دئ؟

زما ښه په ياد دي چې څلوېښت کاله دمخه په پېښور کې د پښتون مجلې او نورو ليکوالو دا خبره څېړله چې پښتو څنګه وليکو او کوم نثر ښه دئ؟ پر دې خبره باندي ډېرو خلکو څه و ويل يا يې وليکل.

خو د دغو ټولو خبرو نتيجه دا وه : پښتانه چې په کومه‌لهجه او توګه په خپلو حجرو کې خبري سره کوي هغه معياري‌لهجه ده او بايد پر هغه اساس څه وکښل سي.



زما په خيال د پښتو لپاره يو تخيلي او حقيقي (معيار) ټاکل د اوس کار نه دئ او نه دا کار يو يا دوه تنه کولای سي.

معياري ليکنه هغه وخت ټاکل کېدای سي چې د پښتو له ټولو لهجو څخه د اجتماعي او مدني اختلاط او ادبي ګډون او تفاعل په اثر کي يو ((معيار)) راووزي او دا هغه وخت ممکنه ده چې پښتانه له قبيلي ژونده ووزي او تګ او راتګ دوني پکښي ډېر سي چې ټولي لهجې او خصوصي تعبيرونه او اداوي او ګرامري خصايص سره ګډ سي او د (بقای اصلح) له قانونه سره برابر، ناوړه ووزي ((وړ)) پاته سي. اما هغه چې د پښتون مجلې ليکوالانو د حجرو پښتو بللې او غوره کړې وه مراد يې دا دئ ((په کومه پښتو چې د کلو خلک پوهيږي او په هغه خبري کوي.)) اوس بايد ليکوال فقط دا خبره هېره نه کړي چې دوی د عامو پښتنو سره خبره کوي او بايد په داسي ژبه څه ورته و وايي چې دوی په وپوهيږي.

زما په خيال بهترين نثر هغه دئ چې د خلکو د خبرو سره برابر وي او که ليکوال ناچاره سي چې د يوه علمي يا اجتماعي مطلب لپاره کوم علمي تعبير او اصطلاح استعمال کي چې په پښتو ساري نه لري، نو بايد هغه هم د پښتو د اصلي قاعدې او ګرامر سره برابره وي او د ژبې په خپل قالب کي ښه اچولې سوې وي، او که په مختلفولهجو کي ډول ډول اصطلاحات او تعبيرونه وي بايد ليکوال دوني ادبي ذوق او د ټاکني قوت ولري چې تر ټولو ښه وټاکلای سي.

مثلاً : ((را په ځټ سو)) يا ((راستون سو)) يا ((را وګرزېدئ)) په دې درو تعبيرو کي د معنا د اصالت په لحاظ دوه وروسته بايد غوره وي. ځکه چې په ځټ کېدل يو مرکب او مجهول تعبير دئ چې له ((ځټې)) څخه جوړ سوی دئ. مګر ستنېدل. ګرزېدل د دغه فصل لپاره دوه اصيل نومونه دي نو ځکه بايد غوره وي.

## لمن ليكونه

۱ د راورټي گلشن روه او د هيوز کليد افغاني وگورئ.
۲ پښتانه شعراء لومړی ټوک.
۳ خيرالبيان خطي (۱۲۸) پاڼه چي فقط يوه نسخه د غربي المان د توبنگن په کتابخانه کښي سته او د فقير بهاتوري په قلم په (۱۰۶۱ ه) کال د بي بي خاتون لپاره کښلې سوې ده.
۴. وگورئ د پښتو شعر تاريخچه
۵. د راورټي د پښتو گرامر مقدمه
۶. د پادري هيوز کليد افغاني مقدمه
۷. اسلامي دايره المعارف (ج ۱ ص ۹۱) وايي چي محمد بن علي مشهور په بن اعثم کوفي عربي مؤرخ دئ چي د لومړيو خلفاوو قصې ئې کښلي او په (۳۱۴ هـ) کښي وفات سوئ دئ، دا کتاب محمد بن محمد المستوفي هروی په پارسو هم ترجمه کړئ او په (۱۳۰۰ هـ) په بمبائي کښي چاپ سوئ دئ.
۸. هيوز کليد افغاني مقدمه
۹. دا کتاب چي نوم ئې "د افغانستان تاريخ له زړو زمانو څخه د (۱۸۷۸ ع) تر جگړې" دئ دوهم پلا په لندن کښي په (۱۸۷۱) چاپ سوئ دئ مؤلف ئې کلنل مليسون نوميږي.
۱۰. وږمه مجله، ۱۳۵۱ لمريز کال، لومړی او دوهمه گڼه، ص ۱ _ ۱۶.